# بلوچستان د سرې اور

رحمت شاه سائل

یو داسې ملک چې هلته اېټمي وسله موجوده وي ، انتها پسند موجود وي او حکومت نهٔ وي، دا خبره د دنیا د عالمي وررولۍ دپاره تشویش ناکه هم ده او تکلیف ده هم. دا د امریکې د یو سیاسي دانشور ډاکټر هنري کسنجر خبره ده چې مېډیا ته رارسېدلې ده او د قومي سلامتۍ د امورو مشیر بزنسکي مشوره ورکوي چې کهٔ (خدائے مهٔ کړه) پاکستان ټوټې کېږي نو امریکې له به څهٔ کول پکار وي. بزنسکي وائي چې کهٔ چرته د ضرورت په وخت د امریکې نه د پاکستان دپاره غلطه فېصله وشوه او صورت حال دغه طرف ته لاړ نو بیا امریکې له څهٔ کول پکار دي. د پاکستان او افغانستان دپاره د امریکې نمائنده رچرډ هالبروک وائي چې په پاکستان کښې د عسکریت پسندۍ ختمول د امریکې د حکمت عملۍ اهمه برخه ده. په دې وجه امریکه غواړي چې د خلیجي ریاستونو نه دغه خلقو ته مالي امداد بند کړے شي او د هغوي په شا کولو کښې زمونږ سره هندوستان، عوامي جمهوریه چین، ایران او روس هم برخه واخلي، د اپرېل دوېمه او درېمه لسیزه په ډېرو حوالو هنګامه خېزه وه. د پښتونخوا په قبائلي پټۍ کښې چې د څهٔ مودې نه یوه هنګامه جوړه وه،د هغې اثرات ډېر زر سوات طرف ته راغلهٔ او اوس په قول د مولانا فضل الرحمان سوات او بونېر د هغو خلقو په قبضه کښې دي. کالا ډاکه، مانسهرې ته څهٔ چې د تربېلې د ډېم په سر ولاړ دي او د هغوي او اسلام آباد ترمنځه اوس صرف د مارګلې غرونه دي.

> په قول د مولانا فضل الرحمان سوات او بونېر د هغو خلقو په قبضه کښې دي. کالا ډاکه، مانسهرې ته څهٔ چې د تربېلې د ډېم په سر ولاړ دي او د هغوي او اسلام آباد ترمنځه اوس صرف د مارګلې غرونه دي.

په دې صوبه کښې د دغسې صورت حال سره سره د اپرېل په دوېمه لسیزه کښې د بلوچستان درې قامي مشران، د بلوچ نېشنل مومنټ مشر غلام محمد بلوچ، سینئر نائب صدر لاله منېر او د بلوچ رېپبلکن پارټۍ مشر شېرمحمد بلوچ قتل کړے شو ، د دې نه مخکښې نواب محمد اکبر بګټي صاحب، بالاچ مري هم شهیدان کړے شوي وو ، وائي چې دا مشران د بلوچستان په اسمبلۍ د پخواني اپوزېشن لیډر میرکچکول علي اېډوکېټ د چېمبر نه اغوا کړے شو او په دوېمه ورځ د هغوي مسخ شوي لاشونه وموندے شو ، د دې خبر په

اوربدو په بلوچستان کښې د تشدد بې شماره واقعات وشول چې پکښې دولس تنه مړۀ هم شو او په ځينې ځايونو کښې خو د حکومت رټ بېخي ختم شوے ښکاري.

زرداري صاحب چې په يو وخت کښې د بلوچستان د خلقو نه د تېرو زياتو معافي (بخښنه) غوښتې وه او بيا ئې اوس اوس د بلوچستان دپاره د يو مضبوط پېکج اعلان کړے ؤ، د هغې نه پس د خلقو طمع توقع پېدا شوې وه چې د بلوچستان حالات شايد چې واپس مفاهمت او معمول طرفته راشي، خو دې تازه واقعې په دغو ټولو اميدونو خاورې واړولې، هغه د پښتو ټپه ده چې:

عالمه دې ظلم ته ګورئ
يو راته خاندي بل مې تبغ په مرۍ ږدينه

وائي چې د دې واقعې غندنه نۀ يوائې دا چې د بلوچستان ټولو خلقو کړې ده، بلکې د صوبې وزيراعلي رئيساني صاحب د غندنې سره سره دا ګيله هم کړې ده چې حکومت ته د خبر ورکولو نه بغير ايجنسياني خلق د کورونو نه تښتوي، د



وزيراعلي رئيساني شکايت ډېر معنې خېز معلومېږي.

وائي چې دغه قتل کړے شوي مشران د هغې



کميټۍ ممبران وو کومه چې د ورکو شوو خلقو د تحقيقاتو دپاره جوړه کړې شوې وه. په دغو کښې يو تن هغه ؤ کوم چې د اقوام متحده د يو اهل کار جان سلوکي په راپېدا کولو کښې ډېر په زړۀ پورې کوشش کړے ؤ. څو قوم پرستو مشرانو په يوه خُلۀ دوه سيکيورټي ايجنسۍ د دې وارداتو ذمه وارې ګرځولې دي. په دې واقعه په ړومبي ځل اقوام متحده د تشويش اظهار کړے دے او په سرکاري بند کښې د بندي داسې کسانو د وژلو غندنه ئې کړې ده.

د امريکې د سفارت خانې ترجمان د قتل شوو مشرانو د مذمت سره سره دا هم ووې چې دې مشرانو د اقوام متحده د علاقائي ادارې د مشر جان سلوکي په را خوشې کولو کښې ډېر مدد کړے ؤ. د بلوچستان اکثرو مشرانو د دې واقعې د تحقيقاتو مطالبه کړې ده او د بلوچستان نېشنل پارټۍ (عوامي) مشر (څوک چې په باقاعده ډول په

پارلیماني سیاست کښې برخه اخلي) وفاقي وزیر پوستل سروسز اسدالله زهري اعلان کړے دے چې کۀ چرې د دې مشرانو قاتلان په ګوته نۀ کړے شو او سزا ور نۀ کړې شوه نو بي این پي (عوامي) به د وفاقي او صوبائي وزارتونو سره سره د اسمبلۍ، سېنټ او بلدیاتي ادارو د رکنیت نه استعفې ورکوي، هغۀ ووې چې زمونږ په حکومتي ادارو اعتبار نشته، هم د دې بد اعتمادۍ په وجه خو د



محترمه بېنظیر بوټو د قتل تحقیقات د اقوام متحده نه کولے شي او په دې وجه دې دا تحقیقات هم د اقوام متحده نه وکړے شي.

په ۱۹۷۵ کښې چې کله بوټو صاحب د عطاءالله مېنګل حکومت ختم کړو او سره د بزنجو ئې بندیوان کړو نو بلوچ قبائلو یو جنګ د سول آرمډ فورسز خلاف شروع کړو. په دغې جنګ کښې تقریباً پینځۀ زره قبائل قتل کړے شوي وو او بیا ئې دې ته

د امریکې د سفارت خانې ترجمان د قتل شوو مشرانو د مذمت سره سره دا هم ووې چې دې مشرانو د اقوام متحده د علاقائي ادارې د مشر جان سلوکي په را خوشې کولو کښې ډېر مدد کړے ؤ.

فوځ هم ور ولېږه چې پکښې تر درېو زرو هغوي هم وژلے شوي وو، هم په دغه موده کښې حبیب جالب یو نظم لیکلے ؤ چې غالباً داسې ؤ:

اُٹھو پنجاب کے لوگو بلوچستان جلتا ہے
بلوچستان جلتا ہے تو پاکستان جلتا ہے

خو شاید چې نۀ هغه وخت د پنجاب خلق پاڅېدلي وو او نۀ ئې دا وخت پاڅېدو ته زړۀ کېږي، خو داسې ښکاري چې دا یواځېنۍ واقعه ده چې د بلوچستان د هغو خلقو امېدونه ئې خاورې کړۀ چا چې په پارلیماني سیاست کښې برخه لرله او کوشش ئې کوو چې په څۀ طریقه او په څۀ ذریعه د صوبائي خودمختارۍ د پاره د مشر ورور په زړۀ کښې د حقیقت کر کرونده وکړي خو داسې لکه چې ونۀ شوه:

ما اوربدۀ موجود وي د هر کاڼي په وجود کښې
خو ستا د زړۀ په کاڼي کښې صنم نۀ ؤ جانانه

تقریباً دوه شپېتۀ کاله چې دلته د ورو قامونو د حقونو سره کومې لوبې وشوې او دغه قامونه په طریقو طریقو څنګه د خپلو کلچرونو تاریخونو، ژبو او نورو حقونو نه د بېګانه کولو کوششونه وشو باید چې دا وخت د هغې د ازالې وخت ګڼلے شوے دے. خو لکه چې اوس په مرۍ د تبغ سره د خندا جادو د خپلو کرتبونو نه بې وسه ښکاري. اوس هلته په دغسې مسئلو داسې

خلق پوهه شوي ښکاري چې د ۲۰۰۹ خاک نشینان
ئې د ۱۹۷۵ خاک نشینان ګڼل چې د خاورو خوراک
به شي (یعنې رزق خاک به شي)، د حقیقتونو نه ډېره
لرې خبره ده. د دې ځائے واړۀ قومونه به نور په
احساس محرومۍ کښې ساتل شاید چې ممکن نۀ
وي، باید چې د دې وخت حکمرانان په سرۀ سینه
دغې مسئلې ته توجه ورکړي او حل ئې راوباسي
ګني د دغې ځائے د پارلیماني سیاست سره وابسته
خلق هم لکه نور د خُلې په تسلو او مزاحمتي بیانونو
د یقین لرلو جوګه نۀ ښکاري.